# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۷مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۵مه | ۶۸۰یمه گڼه


# د حکمتیار نوی خبرداری؛

## که د هوکړې له مخې شوې غوښتنې مو و نه منل شي، ارگ به کلابند کړو



۳

### د اسلامي حزب د لاریونونو گواښ او حکومتي دریځ

۲ مخ

### د کابل هر سهار په چاودنو پیلېږي!

۲ مخ

### د چین او افغانستان ترمنځ به د سوداگرۍ نوی پړا پیل شي

۳ مخ

## عبدالله: سوله لومړیتوب ده او په دې برخه کې د هر عملي اقدام هرکلی کوو

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد د لښکرو د وتلو ۳۲مې کلیزې په مناسبت خپاره کړي پیغام کې ویلي، چې د شوروي پر وړاندې د افغانستان د بریا یوازینی راز د افغانانو یووالی و.

نوموړي دغه راز په هېواد کې د سولې په اړه روانو هڅو ته هیله مندي ښودلې او زیاته کړې یې ده چې دا هڅې به بالاخره په افغانستان کې رواني خلوېښت کلنې جگړې ته د پای ټکی کېږدي. عبدالله ویلي، چې په افغانستان کې د سولې ټینگېدو په اړه د هر عملي اقدام هرکلی او ملاتړ کوي او ټینگار یې کړی چې سوله ورته تر هر څه لومړیتوب دی.

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا مرستیال عزیزالله دین محمد ویلي، طالبان د امریکا له خوا د تړون په اړه په احتمالي توگه د نویو شرطونو له وضعه کېدو سره موافق نه دي.

دین محمد زیاتوي، طالبان غواړي پوه شي چې د امریکا او د دوی ترمنځ د فبرورۍ د ۲۹مې د لاسلیک شوي تړون له ارزونې وروسته د متحده ایالتونو نوې پرېکړه څه ده، نو له همدې کبله یې د سولې خبرې هم ځنډولې دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د مرکچي پلاوي یو غړی د نوم نه ښودو په شرط وایي، چې له یوې میاشتې زیاته موده کېږي، لا هم طالب پلاوی د سولې خبرو مېز ته نه دی حاضر شوی. سرچینې وویل، طالبان په یوه او بل نوم بهانې کوي او خبرو ته نه چمتو کېږي.

## ستولټنبرگ: طالبانو د شوو ژمنو په ماتولو سره ثابته کړه چې د باور وړ نه دي



۲ مخ

## کاروبار

۴ مخ

### وال مارت

وال مارت شرکت په نړۍ کې ۸۵۰۰ څانگې لري، یادې څانگې د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې فعالې دي او یاد شرکت د امریکا متحده ایالاتو په پنځوسو ایالتونو کې په همدې نوم فعالیت کوي.




## رستمي: په ننگرهار کې د نږدې ۲۳ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



کرنې وزارت وایي، چې په ننگرهار ولایت کې د نږدې ۳۳ میلیونو افغانیو په ارزښت پنځه زېربنایي پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یاد وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي، یادې پروژې چې د کرنې وزارت د اقلیمي بدلونونو له امله د رامنځته کېدونکو گواښونو د کچې ټیټولو پروژې له خوا پلي شوې دي.

د رستمي په وینا، په دغو پروژو کې د کانالونو بیارغول او د استنادي دېوالونو جوړول شامل دي. رستمي زیاته کړې، د دغو پروژو په پلي کېدو سره څلور زره جریبه ځمکه خړوبېږي او دوه زره او ۵۰۰ جریبه کرنیزې ځمکې د سیلابونو له گواښونو خوندي شوې، چې د بزگرانو د حاصلاتو په زیاتوالي او د دوی په اقتصادي وده کې رغنده رول لوبوي. د یاد وزارت په وینا، د دغو پروژو په پلي کېدلو سره سلگونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

## قاضي‌زاده: در آتش‌سوزی اخیر در گمرک اسلام‌قلعه صدها میلیون دالر زیان وارد شده‌است



اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می‌گوید که در آتش‌سوزی اخیر در گمرک اسلام‌قلعه صدها میلیون دالر به بازرگانان و موترداران زیان وارد شده‌است.

این آتش‌سوزی حوالی ساعت یک پس از چاشت دو روز پیش آغاز شد. نصیراحمد صالحی، خبرنگاران طلوع‌نیوز از گمرک اسلام‌قلعه می‌گوید که شعله‌های آتش تا ۲۴ ساعت پس از آغاز آتش‌سوزی در این گمرک خاموش نشده بودند.

به‌گفتهٔ او در کنار تانکرهای گاز و موترهای حامل مواد سوختی، صدها موتر حامل موادغذایی و مواد ساختمانی نیز در این آتش‌سوزی نابود شده‌اند.

یونس قاضی‌زاده، رییس اتاق‌های تجارت و سرمایه‌گذاری هرات گفت: «حجم وسیعی از تانکرهای مواد سوختی، مواد متفرقه تجار سوخته‌اند. بخشی از اموال متأسفانه غارت شده‌اند و این یک ضربه بزرگ به سکتور خصوصی است. به شخص رییس‌جمهور و معاون صاحب اول در دو سال اخیر بارها چیغ زدیم و فریاد کشیدیم که زیرساخت‌ها در گمرک اسلام‌قلعه وجود ندارد و متوجه گمرک اسلام قلعه باشید اما کسی صدای ما را نشنید.»

راننده‌گان و گواهان رویداد می‌گویند که در این آتش‌سوزی بیش از یک‌هزار موتر حامل کالاهای بازرگانی سوخته‌اند.


عبدالظاهر، یکی از این راننده‌گان گفت: «سه موتر از ما و نزدیکان ما که ۳۰ تا ۳۵هزار قیمت داشت در این آتش‌سوزی سوخته‌اند و هیچ کسی به داد ما نرسید.»


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

سرلیکنه

## د اسلامي حزب د لاریونونو ګواښ او حکومتي دریځ

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار حکومت ته خبرداری ورکړی، چې ژر تر ژره دې له دوی سره شوې هوکړه عملي کړي. نوموړي په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، که حکومت له دوی سره شوې هوکړې عملي نه کړي، نو ارګ به محاصره کړي او تر هغه به یې محاصره کړي، چې غوښتنې یې عملي شوې نه وي. د ده په وینا، په ځو لنډو ورځو کې په کابل کې پراخ لاریونونه پیلوي او ارګ به محاصره کوي. نوموړی زیاتوي، که حکومت هوکړه عملي نه کړي، نو ارګ به تر هغه محاصره کړي چې پر ملت د مفسدینو واکمني ختمه شي. د بندیانو خوشې کول، په ملکي ادارو کې د حزب اسلامي د غړو جذبول، د کډوالو راستنول او ځیني نور هغه مسایل دي، چې ښاغلی حکمتیار وایي په هوکړه کې راغلي، خو حکومت نه دي عملي کړي.

حکومتي مشران له اسلامي حزب سره هوکړه او سوله خپله لویه لاسته راوړنه ګڼي، خو پر حکومت تل دا نیوکه ده چې له اسلامي حزب سره یې هوکړه نه ده عملي کړې. دا نیوکه له دوو اړخونو کېږي؛ یو دا چې حکومت هوکړه کړې ده، نو مکلف دی چې عملي یې کړي. دویم دا چې که حکومت له اسلامي حزب سره هوکړه نه عملي کوي، نو طالبان به هم پرې باور نه کوي او زړه به ښه نه کړي چې له حکومت سره هوکړه وکړي. د اسلامي حزب او ملي یووالي حکومت ترمنځ له اوږدو خبرو وروسته د سولې هوکړه وشوه، چې پکې دواړه لوري پر ځینو چارو مکلف شوي وو. د دې مکلفیتونو یوه مهمه برخه دا وه، چې حکومت به د اسلامي حزب بندیان له زندانونو خوشې کوي. په لومړیو کې ځیني بندیان خوشې شول، خو وروسته د دغو بندیانو خوشې کول د نامعلومو دلایلو له مخې ودرول شول. که څه هم ښاغلي حکمتیار بیا بیا له حکومت وغوښتل چې بندیان یې ور پرېږدي، خو دا چاره عملي نه شوه. په دې ډول حکومت له اسلامي سره کړې ژمنه نقض کړه.

اوس چې حکمتیار د حکومت ضد لاریونونو او دا رګ د محاصرې خبره کوي، تر ډېر پر حقه دی؛ ځکه چې حکومت ورسره کړې ژمنه نه ده عملي کړې. له بده مرغه هغه وخت چې د حکومت او اسلامي حزب اړیکې سمې وې، ارګ؛ اسلامي حزب ته امتیازات ورکړل، خو چې کله اسلامي حزب په ټاکنو او د سولې په پروسه کې له اشرف غني لاره جلا کړه، نو ارګ نه یوازې پر اسلامي حزب ټول امتیازات قطع کړل، بلکې د ورسره شوې هوکړې عملي کول یې هم ودرول. په دې هوکړه کې تر ټولو مهمه چاره د بندیانو خوشې کول وو چې آن موده ورته ټاکل شوې وه، خو حکومت لا هم نه ده عملي کړې. حکومت قوانینو، تړونونو او هوکړه ته یوازې د چارواکي د شخصي ګټو له زاویې وګوري. له بده مرغه حکومتي چارواکي د خپلو سیاسي مخالفینو سره قانوني چلند نه کوي؛ که څوک د حکومتي تګلارو ملاتړ کوي، نو ارګ ورسره ښه کوي، خو که د ارګ د سیاستونو مخالفت کوي، نو بیا نه یوازې ښه چلند ورسره نه کوي، بلکې هغه حقوق هم نه ورکوي چې د افغانستان قوانینو ورکړي دي.

حکومتي مشرانو ته پکار عقدهیي چلند پرېږدي، قوانینو ته درناوی وکړي او حکومتي ځواک د خپلو شخصي ګټو لپاره ونه کاروي. له اسلامي حزب سره د هوکړې مکلفیت د حکومت دنده ده او باید عملي یې کړي.

# د کابل هر سهار په چاودنو پیلېږي!

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

له تېرو څلورو میاشتو راهیسې نږدې هر سهار پلازمېنه کابل د یوې او یا څو بمي چاودنو یا تروریستي پېښو شاهد وي. په دغو چاودنو کې د پخوا په پرتله تر ډېره ټولنیز مشران، مدني فعالان او خبریالان په نښه کېږي. د همدې چاودنو په لړ کې تېره اونۍ د دلوې میاشتې په ۱۴مه د جمعیت اصلاح افغانستان د مرکزي شورا رییس دوکتور محمد عاطف هم په یوه بمي چاودنه کې ووژل شو، چې پړه یې لا تر اوسه هېچا پرغاړه نه ده اخیستې. افغان حکومت نه یوازې پر ښاغلي دوکتور محمد عاطف چاودنه وغندله؛ بلکې د چاودنې پړه یې پر طالبانو واچوله؛ مګر د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا پر دوکتور محمد عاطف تر چاودنې څو ساعته وروسته یاده حمله په کلکو ټکو وغندله او دا کار یې د یوې خبیثې کړۍ کار یاد کړ. بلخوا د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر حمدالله محب چې د خواخوږۍ په پار د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر ته ورغلی و، پر دوکتور عاطف چاودنه د هېواد د دښمنانو کار ګڼلی او ژمنه یې کړې، چې عاملین به یې پیدا او د قانون منګولو ته وسپاري.

دا چې په دې وروستیو کې ولې ټولنیز فعالان او کلیدي ملي شخصیتونه د چاودنو ښکار ګرځي، د CSRS تحلیل په دې ګڼه کې مو د یادې موضوع شننه کړې ده.

**وروستیو چاودنو ته ځغلنده کتنه**

له تېرو څلورو میاشتو راهیسې چې د دوحې تړون له مخې خپلمنځي خبرېاترې د څو میاشتني ځنډ ترځنګ د تېر کال په سپټمبر میاشت کې پیل شوې، کابل د هېواد د نورو ولایتونو په پرتله نږدې هر سهار د یوې او یا څو چاودنو شاهد وي. د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې پر غیرنظامي کسانو باندې چې تر ډېره ټولنیز فعالان او خبریالان پکې شامل دي، حملې او چاودنې درې برابره زیاتې شوې دي. د خپلمنځي خبرواترو په دغه حساس پړاو کې د چاودنو او تاوتریخوالي زیاتېدو، عام افغانان دې ته ډېر اندېښمن کړي، چې د سولې دغه په لاس راغلې فرصت ښايي د ځینو ځانګړو کړیو د شخصي ګټو لپاره له منځه لاړ شي. بلخوا ځیني ټولنیز فعالان او خبریالان د وروستیو ناامنیو له امله د خپل ژوند ژغورلو په خاطر ان د هېواد پرېښودو ته هم اړ شوي دي. دا ځکه چې یوازې په تېرو څو میاشتو کې پنځه خبریالان (یما سیاوش، الیاس داعي، ملاله میوند، رحمت الله نیکزاد او بسم الله قرلق) په تروریستي پېښو کې ووژل شول. له دې پرته په ځانګړي ډول هغه ټولنیز شخصیتونه چې په هېواد کې د تلپاتې سولې لپاره د کار کوشش کوي، د یوې نامعلومې کړۍ له لوري په نښه کېږي، چې دې کار کې یې د سولې د رواني پروسې له سبوتاژکولو پرته بله موخه نه لیدل کېږي. د دغو شخصیتونو په کتار کې د دوکتور محمد عاطف تر څنګ، دوکتور عبدالباقي امین، وحید مژده او مولوي ایاز نیازی هم یادولی شو.

**دوکتور محمد عاطف څوک و؟**

د معلوماتو له مخې، دغه علمي او اکاډمیک شخصیت دوکتور محمد عاطف د افغانستان د تخار ولایت په بنګي سیمه کې زېږېدلی و، لوړې زده کړې یې د هجرت پر مهال په پېښور پوهنتون کې د مقارنة الادیان په برخه کې د ماسټرۍ او (اېم فېل) تر کچې سرته رسولې وې او د استادۍ مقدسه دنده یې هم د مهاجرو افغانانو په مختلفو پوهنتونونو کې تر سره کړې ده. شپږ کاله یې د جمعیت اصلاح ریاست پرغاړه و. څو کاله وړاندې یې د سلام پوهنتون د کندز څانګې د رییس په توګه هم دنده تر سره کړې. دوکتور محمد عاطف له درېیو کلونو راهیسې د جمعیت اصلاح د مرکزي شورا ریاست چې د هېواد د ملي شخصیتونو په وینا د افغانستان په کچه یو ډېر منظم، د دین او ولس خدمت او چوپړ ته یو ژمن ملي خوځښت دی، هم پرغاړه درلود.

مرحوم دوکتور محمد عاطف په داسې حال کې ووژل شو، چې د ژوند په وروستیو کې یې هم د پورتنیو ارمانونو لپاره هڅې کولې او همدا لامل و، چې د هېواد او پلازمېنې په تاریخ کې یې د جنازې مراسم دومره شانداره او بېساري وو، چې په زرګونو کسانو پکې ګډون درلود او په پلازمېنه کابل کې په ډېر منظم او عالي شکل تر سره شول. همدارنګه د دوکتور محمد عاطف وژنه د افغانستان تر څنګ د نړۍ سیاسي، علمي، دیني او ټولنیزو شخصیتونو یو ستر جنایت وباله او د نوموړي وژنه یې نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره ستره ضایعه او یو ستر ناورین یاد کړ.

د مرحوم محمد عاطف په جنازه کې د هېوادوالو پراخه ګډون دا څرګنده کړه، چې نوموړی د هغه خوځښت سرلاری و، چې په افغان ولس کې ژورې ریښې لري او یوازینۍ موخه یې هېواد ته رښتینی خدمت کول دي. په همدې خاطر د دوکتور محمد عاطف وژل کېدل په ټولنیزو رسنیو کې هم په پراخه کچه وغندل شول، تر دې چې حکومتي او ملي شخصیتونو د نوموړي د فکري لارې تعقیبول د هغه د ارمان پوره کولو لپاره لازم کار وباله.

د دکتور عاطف د فاتحې په مراسمو کې چې د جمعیت اصلاح افغانستان په مرکزي دفتر کې د درېیو ورځو لپاره تر سره شول، د ملي پخلاینې د مشر ډاکتر عبدالله عبدالله، د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمدالله محب، د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار او ډېرو نورو حکومتي چارواکو تر څنګ، د طالبانو د اسلامي تحریک پخوانیو غړو او ډېرو مطرح سیاسي څېرو او ملي شخصیتونو هم ګډون کړی و. له بده مرغه د هدفي وژنو په لړ کې د دکتور عاطف په څېر ملي شخصیت چې د سولې، تعلیم او نورو خیریه کارونو لپاره یې د هېواد ګوټ ګوټ ته له کوم ساتونکي او زرهي موټر څخه پرته سفرونه کول او د هېواد بیارغونه، تلپاتې سوله او د ځوان نسل سمه روزنه او تعلیم یې له سترو ارمانونو څخه وو، هم له منځه یوړل شو.

**هدفي وژنې د سولې د سبوتاژکولو بله وسیله!**

د دوحې د تړون له مخې، طالبان او افغان حکومت باید خپلمنځي خبرې هم پرمخ یوسي؛ خو د خپلمنځي خبرو د پروسې له پیله تر دې دمه د تېر کال په ډسمبر میاشت کې د کړنلارې په اړه له توافق پرته د دغو خبرو بله کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه تر سترګو کېږي. بل خوا د دوحې له تړون وروسته جګړو لاپسې زور اخیستی او په دواړو لوریو کې یې قربانیان یوازې افغانان دي. د خپلمنځي خبرواترو د لومړي پړاو په وروستیو کې د اوربند او لنډمهالي حکومت د رامنځته کېدو غوښتنې هم مطرح شوې؛ خو د دویم پړاو له پیله تر اوسه د دواړو لوریو ترمنځ نه کومه ناسته شوې او نه د پرمختګ کوم څرک تر سترګو کېږي. سره له دې طالب پلاوي روسیې او د سیمې ځینو نورو هېوادونو ته سفرونه پیل کړل او د افغان حکومت پلاوي بیا ادعا وکړه، چې له یوې اونۍ انتظار وروسته لا هم طالب پلاوی رسمي خبرواترو ته نه حاضرېږي. ښايي د اوربند او لنډمهالي حکومت موضوع هغه څه وي، چې دواړه لوري یې له خبرواترو څخه په شا کړي وي. دا ځکه چې د طالبانو د قطر دفتر مرستیال شیرمحمد عباس ستانکزي روسیې ته د سفر پر مهال په ډاګه کړې وه، چې هغوی سولې ته چمتو دي؛ ولې په دې شرط چې ولسمشر محمد اشرف غني له واکه لاس په سر شي؛ خو افغان حکومت بیا د اوربند غوښتنه کوي او د واک تر لاسه کولو لپاره یوازینۍ لاره ټاکنې مطرح کوي.

بل خوا د خپلمنځي خبرواترو د دغه نامعلوم ځنډ په لړ کې په امریکا کې د جوبایډن په مشرۍ د نوې ادارې چارواکو د افغان حکومت په مرسته د دوحې د تړون ارزول اعلان کړي دي. د امریکا د ملي امنیت سلاکار جګ سولیوان بیا ویلي دي، چې د دوحې تړون له مخې به له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل د هوکړې له ارزولو وروسته او شرایطو ته په کتو تر سره شي. د ګانګرېس لخوا د افغانستان د حالاتو څارونکې ډلې هم وړاندیز کړی، چې تر راتلونکې مې میاشتې دې د پوځیانو د وتلو وروستۍ موده وغځول شي. دا وړاندیز یې هم کړی، چې امریکا باید افغان سولې ته ژمنه پاتې شي. د څېړونکې ډلې په وینا، که پوځیان اوسمهال ووځي، ښايي حالت ډېر خراب لوري ته لاړ شي. همدارنګه ځینو نورو امریکایي چارواکو څرګنده کړې، چې حالاتو ته په کتو او د شرایطو پر بنسټ به د ځواکونو وتل نه یوازې په افغانستان کې د سولې له راتګ؛ بلکې ان په سیمه کې به د امریکا د ګټو له خوندیتوب سره هم مرسته وکړي.

په دغسې یو حالت کې چې طالبان د ولسمشر محمد اشرف غني له واکه لرې کېدل غواړي، افغان حکومت مخکې له کوم ښه پرمختګ څخه د اوربند رامنځته کېدو غوښتنه کوي او امریکا بیا د دوحې تړون د ارزونې خبره، نو دغو ټولو تناقضاتو د خپلمنځي خبرواترو د پلاوو ترمنځ د رسمي ناستو پر وړاندې یو ځنډ رامنځته کړی دی.

د سولې په دغسې یو بېساري فرصت کې هدفي وژنې نه یوازې د اړوندو لورو ترمنځ نورې بېباورۍ رامنځته کوي، ان د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدو ته هم بهانې جوړولی شي. طالبانو بیا له افغانستان څخه په خپل وخت د بهرنیو ځواکونو د نه وتلو په غبرګون کې د هغوی پر وړاندې د بیا جګړې پیلولو ګواښ کړی، چې پایله یې یوازې د سولې پروسې پر غځېدو او یا له منځه تللو راڅرخېدلی شي او عام افغانان په دغسې نازکو حالاتو کې د راتلونکې په اړه د پخوا په پرتله ډېر اندېښمن ښکاري.

هدفي وژنې یوازې په غندلو او جنایت ګڼلو له منځه نه شي تللای، نو لازمه ده، چې ټولنیز او ملي شخصیتونه، مدني فعالان او سیاسي لوري د هدفي وژنو پر وړاندې په خپلو کې متحد او یو موټی شي. سره له دې چې افغان حکومت او طالبان د اوسنیو هدفي وژنو غندنه کوي او پړه یې پرغاړه نه اخلي؛ خو په دواړو لوریو دا لازمه ده، چې د هغو کړیو په رسوا کولو کې چې هدفي وژنې تر سره کوي، لازم او اړوند ګامونه پورته کړي. د دوکتور عاطف د جنازې په مراسمو کې په زرګونو راټولوشوو کسانو د جګړې پر دواړو خواوو غږ وکړ، چې د سولې د راتګ لپاره دې خپل ګامونه ګړندي کړي او پر افغان حکومت یې پړه واچوله، چې له یوې خوا ځان د خلکو د امنیت په برخه کې واکداره ګڼي، له بلې خوا د دوی د امنیت په تامینولو کې تر ډېره پاتې راغلی. راټولو شوو کسانو د مرحوم عاطف د وژنې په اړه د عدالت غوښتنه، د هدفي او ځنځیري وژنو د لړۍ بندېدل او هېواد ته د عادلانه او عاجلې سولې راتګ د خپلو بنسټیزو غوښتنو په توګه مطرح کړې. نو که چېرې هدفي وژنې په همدې توګه دوام پیدا کړي، بیا د بین‌الافغاني خبرو د لا غځېدو تمه له امکان څخه لرې خبره نه ده او په دې توګه به یې ګټه یوازې هغه چا ته ورسېږي، چې د سولې د رواني پروسې سبوتاژکول غواړي. اسلامي هېوادونه او په تېره د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان او نړیواله ټولنه د هدفي او ځنځیري وژنو د پای ته رسولو په پار باید د جګړې په ټولو لوریو فشار راوړي، څو په افغانستان کې روان ناورین پای ته ورسېږي او افغان ولس هره ورځ خپل سهار له چاودنو پرته پیل کړي.



# د چین او افغانستان ترمنځ به د سوداګرۍ نوی پړا پیل شي

لیکنه: ډېوه
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

د چین د چونګ چینګ ښار د سوداګریزې کمېټې او د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع خونې د فبرورۍ په ۷مه د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګریز ډګر د جوړولو یوه ویډیویي غونډه تر سره کړه، چې د دواړو هیوادونو سوداګرو او چارواکو هم پکې ګډون درلود. د افغانستان د ولسمشرۍ دفتر د مهمو پانګونو رییس عبدالباري بلوچ، د افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ خونې لومړي مرستیال محمد یونش، د پانګې اچونې چارو مرستیال سلطان محمد صافي، د دارالانشا رییس خان محمد سرفراز باز، د بین المللي اړیکو رییس جاوید برهان، د مدیره هیئت پلاوي غړي خان جان الکوزي او د مدیره هیئت مشاور حمیدعزیزي په دغه ویډیویي غونډه کې ګډون کړی و. د دې غونډې موخه د چین او افغانستان ترمنځ په راکړه ورکړه کې د ستونزو لرې کول او د دواړو هېوادونو ترمنځ د معیاري سوداګرۍ هڅول دي.

د چین او افغانستان ترمنځ د نظر تبادلې او تګ راتګ پیاوړتیا اړین کار دی

د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمېټې د اقتصاد او ټولنې د پرمختګ د ۱۴م پنځه کلن پلان او تر ۲۰۳۵ کال پورې د ابادۍ موخې په وړاندیز کې دې ته اشاره شوې، چې چین به پر لا پراخ او ژور ورخلاصون ټینګار وکړي، د سوداګرۍ او پانګونې ازادي او اسانېدل به وهڅوي او د یو کمربند او یوې لارې جوړونه به پرمخ بوځي.

یو کمربند او یوه لاره په منځنۍ او جنوبي اسیا کې د تېلو او ګازو د پایپ لینونو او د اوسپنیزو لارو او سړکونو اقتصادي کمربند دی، چې پراخې اغېزې لري او سیمه ییزه لاسرسي یې پیاوړې کړې ده. افغانستان د یو کمربند او یوې لارې په اوږدو کې پروت دی، دا لار د چین او افغانستان ترمنځ د نظر تبادلې او تګ راتګ د پیاوړتیا او د سیمه ییزو هېوادونو د همکارۍ لپاره مهم رول لري. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع خونې مرستیال خان جان الکوزي په یاده ویډیویي غونډه کې وویل، له هند، روسیې او ایران سره د افغانستان سوداګریز ارزښت د زیاتېدو په حال کې دی، خو له چین سره یې سوداګریز ارزښت د ټیټېدو په حال کې دی. چین لویه اقتصادي وده او لوی بازار لري، افغانستان باید له چین سره سوداګریز تګ راتګ پیاوړی کړي، ځکه د دواړو هېوادونو ترمنځ همکاري ښه راتلونکی لري.

د چین او افغانستان په سوداګرۍ کې ستونزې او خنډونه

اوس د چین او افغانستان ترمنځ په راکړه ورکړه او سوداګریزو چارو کې د پیسو لېږد رالېږد او د توکو د صادراتو او وارداتو په ګډون ځینې مسئلې شته، چې د سوداګرۍ د پرمختګ پر وړاندې خنډ ګرځېدلې، نو د توکو د لېږد رالېږد لپاره د یوه خدمتي ډګر جوړول لازم او اړین کار دی. د مالوماتو له مخې، د افغانستان په بازار کې ۹۰ سلنه توکي په چین کې جوړ شوي، د افغانستان له لارې اروپا ته د چیني توکو صادرول تر ټولو لنډه او اغېزمنه لاره ده. د افغانستان سرچینې او ځانګړې تولیدات په چین کې ښه بازار لري او چینایان ورته اړتیا لري، خو د دواړو هیوادونو ترمنځ د لویو توکو د پېر او پلور اسانتیاوې او د صادراتو او وارداتو لوی ډګرونه نشته. بله مسئله دا ده، چې د چین او افغانستان ترمنځ زیاتره معاملې په ډالرو کیږي او د ار اېم بي RMB کارولو لپاره اسانه لاره نشته. د کرونا وبا له امله، د دواړو هېوادونو د خلکو تګ راتګ بند شوی، چې له امله یې د دواړو خواوو د سوداګرو ترمنځ معاملې هم له خنډ او ځنډ سره مخ شوې دي. چین او افغانستان د سوداګرۍ یوې ثابتې او خوندي لارې ته بېړنۍ اړتیا لري.

د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ ډګر مهم اهمیت

د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ ډګر د جوړولو پروژه به د چین د چونګ چینګ ښار د سوداګریزې کمېټې او د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع خونې تر ملاتړ او لارښوونې لاندې د دواړو هېوادونو د توان لرونکو تصدیو لخوا تر سره شي او په دې سره به یادې ټولې ستونزې حل شي.

چونګ چینګ ښار به د خپلو وړتیاوو په کارولو سره د یاد ډګر جوړولو لپاره خدمتونه وکړي.

د بېلګې په توګه، د افغانستان د جلغوزو په ګډون زراغتي تولیدات به چین ته صادرېږي، چونګ چینګ ښار به د دغو تولیداتو د زېرمې، سوداګرۍ او لېږدولو په برخو کې ځنځیري خدمتونه وکړي، چې په دې سره به د توکو اړوند لګښتونه ټیټ شي او چین ته د افغانستان د زراغتي تولیداتو د صادرېدو لپاره به نوې کړکۍ پرانیستل شي. سربېره پر دې، دغه ډګر به د دواړو هېوادونو تصدیو لپاره پولي خدمتونه هم برابر کړي.

له دغې غونډې وروسته، ارګ سمدلاسه د دې پروژې په اړه افغان مسوول ته لارښوونه وکړه، چې له چین سره سوداګریزې همکارۍ پراخې او پیاوړې کړي. د افغانستان په بازار کې ډېر فرصتونه شته او چین باید خپله وړتیا وکاروي او د ساختماني چارو په برخه کې دې له افغانستان سره هراړخیزې همکارۍ وکړي، ځکه دا د چین او افغانستان له ګډو ګټو سره سر خوري.

# د حکمتیار نوی خبرداری؛

## که د هوکړې له مخې شوې ژمنې ونه منل شي، ارګ به کلابند کړو



د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار له حکومت ناراضه دی او په خبره یې، د حکومت مشرانو له ده سره لاسلیک کړې هوکړه نه ده عملي کړې. نوموړي د ارګ د کلابندۍ خبرداری ورکړی او وایي چې له خپلو پلویانو سره به یو ځای ارګ محاصره کړي او تر هغه به دې محاصرې ته ادامه ورکړي چې ارګ یې خبرې منلې نه وي.

نوموړي همدا راز پر حکومت تور پورې کړ، چې د سولې بهیر سبوتاژ کوي او همدا راز جګړو او ناندریو ته لمن وهي. افغان حکومت بیا د حکمتیار پر څرګندونو غبرګون ښودلی او زیاتوي چې په ارګ کې چا ته په زور د ننوتو اجازه نه ورکوي او افغان ځواکونه د نظام ساتونکي دي.

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار وایي، افغان حکومت له دوی سره د سولې شوې هوکړه نه ده عملي کړې او دوی مجبور شوي چې د ارګ د دې نه ژمنتیا پر وړاندې غبرګون وښيي. د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار پرون د پخواني شوروي اتحاد د سرتېرو د وتلو د کلیزې په مناسبت په جوړو شوو مراسمو کې د خبرو پر مهال وویل چې حکومت یې نه زندانیان خوشي کړي او نه یې هم د دغه ګوند کسان په حکومت کې جذب کړي دي.

حکمتیار حکومت ته خبرداری ورکړی چې د سولې هوکړه عملي کړي او که داسې و نه کړي، نو دوی به یې پر وړاندې غبرګون وښيي. هغه په ارګ کې حاکم کسان مفسد او پردیپال وبلل او په خبره یې، یوه ځانګړې کړۍ په ارګ کې حاکمه ده چې د دوی هوکړه نه عملي کوي او تر څنګ یې د سولې هڅې هم سبوتاژ کوي. هغه ګوابښ کړی، چې له خپلو پلویانو به د ارګ محاصره وغواړي او که حکومت یې پر ژمنو عمل و نه کړي، نو د دې احتمال شته چې پر لا سختو لارو چارو فکر وکړي. د حکمتیار په خبره: «ارګ او ارګ مېشتی دې واوري چې تر ارګه ځو، ارګ مېشتو ته ښایو که زموږ ټول زندانیان ژر بې له کوم قید او شرطه ازاد نه‌شي او زموږ مامورین، مجاهدین او افسران د شوې هوکړې پر بنسټ مدغم نه‌شي او کډوال مو ښارونو کې ځای پر ځای نه‌شي، ارګ تر هغې محاصره کوو چې د مفسدینو واک پای ته ورسوو».

حکمتیار همدا راز وویل چې افغان حکومت په هېواد کې د یوې نوې جګړې د پیل لپاره هڅې پیل کړې او د سولې روان بهیر سبوتاژ کوي. د ده په خبره، همدا اوس دی کره معلومات لري، چې د هېواد له مهمو بندرونو له وسلو او مهماتو ډک موټرونه راځي، وسایط راځي، تجهیزات راځي او هغو سیمو ته رسول کېږي چې هلته د طالبانو ضد قوماندانان اوسي او یا د طالب ضد جګړې سابقه لري.

د ده په خبره: «د یوې نوې جګړې لپاره تیاری روان دی. بیا هم وایم، اسناد لرم چې د غنمو او نورو خوراکي توکو په موټرو کې لسګونه میله وسلې هېواد ته را ننوځي او بیا هغو قوماندانانو ته رسول کېږي، چې دوی له طالبانو سره د جګړې سابقه لري».

حکمتیار دغه راز له امریکا هم وغوښتل چې د سولې پر هوکړه عمل وکړي او په دې توګه په هېواد کې خپل نظامي حضور ته د پای ټکی کېږدي. د حکمتیار په وینا، د امریکا نوی حکومت او جو بایډن باید په دې پوه شي چې په افغانستان کې یې په پاتې کېدو کې ګټه نشته او یوازې د جګړو او ناورین سبب به شي، نو ښه به وي چې د سولې هوکړه عملي کړي. د ده په خبره: «موږ واضح جو بایډن ته وایو، چې د سولې پر هوکړه عمل وکړي. که فکر کوي چې طالبان به نور هم ورته راټیټ شي، خو نه کېږي، نو ښه ده چې امریکا خپل ځواکونه له افغانستان وباسي».

له دې سره جوخت د ولسمشر ویاند دواخان مینه پال بیا د حکمتیار پر څرګندونو غبرګون ښودلی دی. نوموړي ویلي، افغانستان یو مشروع نظام لري، چې خلکو رایه ورکړې، افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه یې ساتنه کوي او چا ته اجازه نه ورکوي چې په زور ارګ ته د ننه شي او یا هم یوه مشروع حکومت ته ګوابښ پېښ کړي.

# تر ناندریو او جنجالونو وروسته؛

## پخواني ولسمشر ټرمپ د امریکا د کانګرېس له استیضاح څخه برئت ترلاسه کړ



د متحده ایالتونو د سنا مجلس د استیضاح په محکمه کې د امریکا پخوانی جمهور رییس ډونالډ ټرمپ پر کانګرېس د برید په قضیه کې برئت ترلاسه کړ.

وروسته له هغې چې ډیموکراتو څارنوالانو او د ټرمپ مدافع وکیلانو خپل استدلالونه وړاندې کړل، سنا د ټرمپ د محکومولو او یا تبریه کولو لپاره رایې واچولې. د سنا ۵۷ د ۴۳ په مقابل کې جمهور رییس ټرمپ له تورونو څخه تبریه کړ.

د ۴۸ ډیموکراتو سناتورانو تر څنګ دوو خپلواکو سناتورانو او اوو جمهوري غوښتونکو سناتورانو د ټرمپ د محکومولو لپاره رایه ورکړه، خو د کانګرېس ډیموکراتانو ۶۷ رایو ته اړتیا درلوده چې له دریو نه دوه برخې رایې ترلاسه کړي. ټرمپ د امریکا د متحده ایالتونو لومړنی ولسمشر دی، چې د جمهوري ریاست په یوه دوره کې دوه ځلې استیضاح شو. سناتور بل کسیدي، سوزان کالینز، ریچار بار، لیسا مورکوسکي، مت رامني، بن ساسیي او پت تامي اووه جمهوري غوښتونکي سناتوران دي چې د ټرمپ د محاکمې په ملاتړ یې رایې ورکړې.

د وروستنیو دلایلو له وړاندې کولو مخکې د سنا په غونډه کې پر دې بحث وشو چې ایا د ټرمپ د استیضاح محکمې ته دې شاهدان راوستل شي او که نه. په یو ناڅاپي اقدام کې ډیموکراتو څارنوالانو وویل چې غواړي یو شمېر شاهدان د شاهدۍ لپاره راوبولي.

له بحث وروسته سنا د ۵۵ مثبتو او ۴۵ منفي رایو په نتیجه کې پرېکړه وکړه چې د استیضاح محکمې ته دې شاهدان راوستل شي، خو د ټرمپ مدافع وکیلانو ګواښ وکړ چې هغوی به هم د ولسمشر بایډن مرستیاله کاملا هریس او د استازو د خونو مشره نانسي پلوسي هم راوبولي چې شاهدي ورکړي. بالاخره، سنا پرېکړه وکړه، چې محکمه دې د شاهدانو له راوستلو پرته خپله نهایي پرېکړه وکړي.

بلخوا ټرمپ د سنا جرګې له لوري د ده د استیضاح محاکمې د ردېدو په غبرګون کې په یوه اعلامیه کې د دې موضوع د هرکلي ترڅنګ له هغو ټولو استازو مننه کړې چې د ده دفاع یې کړې ده.

د امریکا مخکیني ولسمشر دغه راز ویلي، یو تاریخي، هېوادپالونکی او ښکلی عظمت یې بیا امریکا ته راګرځولی او په راتلونکو میاشتو کې به له خلکو سره ډېر شیان شریک کړي.


د یادونې ده چې ټرمپ د استیضاح دویمه محاکمه تېره اونۍ په سنا جرګه کې پیل شوه. دا د امریکا په سنا جرګه کې د استیضاح تر ټولو لنډه محاکمه وه.

## د کتـــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
کابوکي




که ډیموکراسي ناکامه شوې، نو لامل یې دا دی چې پاکستان د هند په څېر نظام نه لري چې پیاوړي اداري جوړښتونه لري، پر یوه مسئله یې د ادارو د اتفاق اجماع جوړېږي او بله دا چې اداري یې خپل کارونه په ښه شکل سر ته رسوي. کېدای شي ستاسو د ادارو د پرېکړو پایله د پاکستان او سیمې لپاره ښه نه وي، خو توافق پرې شوی وي. زموږ په هېواد کې بیا خبره یوازې تر رئیس راټوله وي. دی نورې چارې بس په خپله خوښه پر مخ بیایي. اداره یو نیم نظر ورکوي، کله کله خو د رئیس د خبرې خلاف لا سوڼ هم کولای نهشي.

دولت: دین پکې ونډه لري، که نه؟ د دین اغېز ډېر بولئ که لږ؟

دوراني: یقیناً چې دین پرې اغېز لري، خو هغسې نه لکه چې یې وایي. مثلاً که د ضیاءالحق مثال یاد کړم. دی زه شخصاً پېژنم، ده په کورني سیاست کې د خپلو شخصي گټو په خاطر مداخله نه کوله. خو په نړیوالو اړیکو کې په تېره بیا له هند سره په اړیکو کې د دین ونډه نه وینم. خلک د ځینو مشخصو سیاستونو د عقلاني ښوولو لپاره د دین نوم کاروي.

دولت: د دیکتاتور یوه ښېگڼه همدغه ده چې د چا پر وړاندې مسئول نه وي. کېدای شي چې دیکتاتور دینداره وي، خو دا هم شونې ده چې پراگماټیک یا عملي وي او چې کوم کار ورته ښه ښکاره شي، نو پر همغې لاس پورې کړي او څوک یې پر خلاف درېدلای هم نهشي. زموږ له ډموکراتیکې لارې سره ځکه لگېږي چې بله لاره نه لرو. زما له انده دغه ستونزې (چې تاسې یې داخلي اجبار بولئ) د لومړي وزیر مودي کارونه سخت کړي دي. خدا زده چې مودي به پر کوم فکر وي، خو دوه ځلې یې خبرې پیل کړې او بېرته یې پرېښودې. د دې مانا همدا ده چې پر وړاندې یې خنډونه درېږي؛ ځکه دی خو غوټې ډېرې ښې پرانیزي.

سېنها: داسې خو نه چې مودي، لېوه له لکۍ نیولی دی او ځان ترې خلاصولای نهشي؟

دولت: ستاسې برداشت ترې څه دی؟ دغسې خو نه ده؟

دوراني: دغه خبره سمه ده، لېوه چې له لکۍ ونیسې دغه ستونزه به لرې. ایوب خان، ضیاء الحق او مشرف درې واړه پوځي دکتاتوران ول، په دوی کې ضیاءالحق ډېر مذهبي و. خو د دواړو هېوادونو ترمنځ چې د اړیکو خبره کوو، نو له مذهبه یې لارې جدا وې.

دولت: په دوی کې مشرف ډېر ښه و، منطقي انسان و.

دوراني: سمه ده، مطلب مې دا دی چې ستاسې خبره سمه ده. دغو درې واړو دکتاتورانو او همدارنگه د ملکي حکومت په مشرانو کې د یوه په اړیکو کې هم دین ونډه نه درلوده.

دولت: دوی آن د دغسې کار نیت نه درلوده؟

دوراني: نه، بالکل نه. که ضیاءالحق د اړیکو ښه کېدل غوښتل، نو څوک یې مخالف نه و. که مشرف هم دغسې غوښتنه درلودای، نو که څه هم ده سیکولر عقیده درلودله، بیا یې هم په کور دننه چا مخالفت نه کاوه.

سېنها: شخصاً ستاسې کوم پاکستانی سیاستوال خوښېږي؟

دولت: ټول پاکستاني سیاستوال نه پېژنم، خو شخصاً زما بېنظیر بوټو خوښېده.

دوراني: پوهېږم.

دولت: جذابه وه. ښایسته وه، راتلونکي ته یې پام کاوه. د هغې د مرگ خبر مې چې واورېد، خوا مې پرې بده شوه، ځکه راتلونکی د هغې و. که ژوندۍ هم پاتې وای، بیا چا نهشو ویلای چې راتلونکی به څنگه و. خو له پهدې کې شک نشته چې تر بل هر پاکستاني سیاستوال یې ډېر خلک په ځان راټولولای شول.

په ۲۰۱۱م کې په کراچۍ کې وم. ماښامنۍ ته ناست وم، د باندې هوا زښته گرمه وه، زه د بېنظیرې د کورنۍ له یوه غړي سره ناست وم. دغه کس تر ما په عمر کې لږ مشر و او آزاد غږېده. د پاکستان په سیاسي نظام او سیاستوالو پسې یې بد رد ویل. ده ویل چې په پاکستان کې یکې یو سیاستوال تېر شوی دی، هغه هم ذوالفقار علي بوټو دی، مور بیا د ده غوندې زوی زېږولی نه دی. ده بوټو یو سیاستوال، یو رهبر او مدبره زمامدار باله. پاتې نور ټول سیاستوال یې له عزته کنگال (بې شرفان) وبلل.

د دوو شخصیتونو ترمنځ ډېر شباهتونه لیدل کېږي. خلکو ویل که راجیو گاندي په ۱۹۹۱ کې د دویم ځل لپاره لومړی وزیر ټاکل شوی وای، نو ډېر ښه صدارت به یې کړی و. همدغه شان که بېنظیره بیا واک ته رسېدلې وای، نو په پاکستان کې به ډېر بدلونونه راغلي ول. نه پوهېږم چې د پاکستان-هند اړیکو د ښه کېدو نیت به یې درلود او که نه.

دوراني: ستا د معلوماتو لپاره باید ووایم چې په پاکستان کې د بنگلهدېش د غمیزې اصلي طراح ذوالفقار علي بوټو گڼل کېږي. خو د دې کار زیاته ملامتیا د یحیی خان پر غاړه ده، ځکه په واک کې و.یحی او مجیب گڼې هڅې وکړې چې د دواړو برخو گټې سره همغږې کړي، خو بوټو به یې دغه هڅې سبوتاژ کړې. رښتیا خبره دا ده چې د ختیځ پاکستان نفوس ډېر و، تر هغې چې دا برخه له پاکستان بېله شوې نه وای، نو دی لومړی وزیر کېدای نهشو. **دوام لري...**

# وال مارت

حشمت الله نوري




وال مارت د خوراکي او نورو توکو تر ټولو ستر شرکت دی. یاد شرکت په نړۍ کې د پلورنځیو او سوپر مارکېټونو تر ټولو ستره سره تړلې شبکه لري. دا شرکت په نړۍ کې له رویال داچ او اکسان موبیل وروسته د نړۍ تر ټولو ستر شرکت دی. په نړۍ کې له مالي اړخه د نړۍ تر ټولو د ډېرې گټې وټې مالک شرکت دی.

د دې شرکت مالک سام والتون دی، هغه په ۱۹۱۸ کال کې د اکلاهام په کینگفیشر کې زېږېدلی دی. تر پنځه کلنۍ پورې یې له خپله پلار سره په مزرعه کې په کرکېله بوخت و، وروسته یې د اقتصادي ستونزو له مله کرکېله پرېښوده، د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره یې دا پرېکړه وکړه چې څمکه به پلوري او پر ځای به یې سوداگري پیل کوي. هغه همداسې وکړل، په ۱۹۶۲ کال کې یې د امریکا په گوټ گوټ کې په سوداگرۍ پیل وکړ. ده او ورور یې باد ولتون په همدې کال کې د امریکا په آرکانزاس کې یو کوچنی او دوډیز دوکان پرانیست. وروسته یې له همدې ځایه خپل کاروبار ته وده ورکړه.

دغه شرکت په ۲۰۱۱ کال کې د نړۍ تر ټولو ستر عمومي شرکت دی، دوی د نړۍ په ۵۰۰ غوره شرکتونو کې چې د پلورنځیو او خوراکي توکو د پلور لپاره کار کوي، لومړی مقام لري. همدارنگه دا په نړۍ کې تر ټولو ستر د عامه خدماتو شرکت دی، چې تر دوو میلیونو ډېر کارکوونکي لري.

اوس هم د والمارت ملکیت د والتون له کورنۍ سره دی او د یاد شرکت د ۴۸ سلنه سهام ملکیت لري. وال مارت شرکت په نړۍ کې ۸۵۰۰ څانگې لري، یادې څانگې د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې فعالې دي. یاد شرکت په همدې والمارت نامه د امریکا د متحده ایالاتو په پنځوسو ایالتونو کې فعالیت کوي. په مکزیک کې یې سوداگریز نوم والمکس دی، په برېټانیا کې اسدا، په جاپان کې سیو او په هند کې هم د بست پرایس په نوم فعالیت کوي. په برازیل، آرجنتاین او کاناډا کې هم په بېلو نومونو پانگونې او څانگې لري. سره له دې چې وال مارت په امریکا کې پېژندلی شوی نوم دی، خو دا شرکت په بېلو سوداگریزو برخو کې فعالیت کوي او نوم یې په نورو هېوادونو کې هم مشهور دی. په شمالي امریکا، برېټانیا، جنوبي امریکا، چین او نورو هېوادونو کې بریالی شرکت دی.

سام والتون په نړۍ کې په افسانوي پلورونکي شرکت مشهور دی، هغه په ۱۹۶۲ کال کې وال مارت جوړ کړ، مخکې مو هم یادونه وکړه چې د یوه کروندگر زوی و، پلار یې قرضداره و، کور یې وپلوره، ځمکه یې هم وپلورله او په کاروبار پسې ووت. والتون باوري و چې که کوچنی دوکان ولري، خو د هر چا د اړتیا وړ توکي پکې وي، مشتریان به دې ډېر شي او کار به دې بریالی شي. تاسې اوس هم چې کله وال مارت ته دې ننه شی، هر هغه شی چې غواړې پیدا کولی یې شی. هغه وایي، په کاروبار کې موسکا او نیک سلوک تر ټولو ښه اعلان دی، تاسې له خپل مشتري سره مرسته وکړئ، وخاندئ او په ځینو مسایلو کې وړې ټوکې ورسره وکړئ. هغه به ویل، تاسې که هر ځای یی، خو پام مو وي چې له یو بل سره په غیر مستقیمه توگه همکاران یی، نو د دې لپاره چې ټوله نړۍ په خوښۍ ژوند وکړي، ښه ده چې موسکا او له یو بل سره کمک هېر نه کړئ.

نوموړي یو کتاب هم لیکلی چې مېډ این امریکا نومېږي. والتون په دې کتاب کې خپل ټول باورونه او تگلارې روښانه لیکلې دي. په ۱۹۹۲ کال کې ومړ او پر ځای یې د هغه زوی رابسون والتون د شرکت مشر وټاکل شو. رابسون له کلمبیا پوهنتون د حقوقو په برخه کې دکتورا اخیستې وه او په ۱۹۶۹ کال کې له وال مارت سره یو ځای شوی و. لی اسکات هم د دې کمپنۍ بل پیاوړی مدیر دی چې ورځ تر بلې د خپل شرکت د ودې او پرمختگ لپاره کار کوي. اسکات د پتسبرگ له پوهنتون فارغ دی او د سوداگرۍ په برخه کې ښه تجربه لري.

وال مارت شرکت په ۱۹۶۲ کال کې رسماً خپل فعالیت پیل کړی دی، خو مخکې له دې چې رسمي فعالیت پیل کړي، کارونه یې د سام والتون او باد والتون لخوا پیل شوي وو. د ۱۹۴۰ کال په جون میاشت کې سام والتون خپل فعالیت د جي سي پي کمپنۍ یوې څانگې ته نېږدې په دس مونیز کې پیل کړ. والتون ۱۸ میاشتې په هغه ځای کې کار وکړ. په ۱۹۵۴ کال کې والتون د باټلر له ورونو سره معرفي شو، دوی د بن فرانکلین په نامه د زنجیري کمپنیو مالکان وو، د دوی په وړاندیز یې په آرکانزاس ښار کې د همدې کمپنۍ یوه څانگه پرانیسته. په وروستیو کلونو کې والتون ډېره گټه وکړه، هغه بریالی شو چې خپله سرمایه څو برابره کړي، خو وروسته د پلورنځي څښتن خپل قرارداد نوی نه کړ او والتون اړ شو چې خپل کارځای پرېږدي او بل ځای ته ولاړ شي.

په ۱۹۵۰ کال کې والتون په بنتون کې ویل چې د والتونز ۱۰ او پنځه په نامه پلورنځی یې پرانیست، نوموړي په دې پلورنځي کې له یوې نوې ستراتیژۍ کار واخیست، هغه په دې توگه د تخفیف کچه لوړه کړه، په دې توگه د پلور کچه هم لوړه شوه او مشتریان ډېر ورته رامات شول. د ۱۹۶۲ کال په جون کې والتون پر دې بریالی شو چې ۱۱ نور پلورنځي هم پرانیزي. هغه خپل پلورنځي په وال مارت ونومول او په دې توگه نو یو کروندگر پر دې بریالی شو، چې ډېر پلورنځي پرانیزي.

هغه په وروستیو پنځو کلونو کې ۲۴ پلورنځي پرانیستل، خپلو پلورنځیو ته یې په آرکنزاس ایالت کې پراختیا ورکړه او پانگه یې ۱۲،۶ میلیونو ډالرو ته ورسېده. په ۱۹۶۰ کال کې وال مارت په چټکۍ د پراختیا په حال کې و، وړو وړو ښارونو ته یې هم د فعالیت لمن پراخه شوه، تر دې چې په ۱۹۷۰ کال کې یې د پلورنځیو شمېر ۳۸ او د کارکوونکو شمېر یې ۱۵۰۰ ته ورسېد. کلنی پلور یې هم په هغه وخت کې ۴۴،۲ میلیونه ډالره و.

په ۱۹۸۰ کال کې یاد شرکت تر دې هم پراخ شو، د پلورنځیو شمېر یې ۱۱۹۸ ته ورسېد او د کلني پلور کچه یې 15.9 میلیاردو ډالرو ته لوړه شوه. په دې وخت کې نو ۲۰۰ زرو کسانو کار ورسره کاوه.

په همدې کال کې دې شرکت په سپوږمکیو باندې ۲۴ میلیونه ډالره پانگونه وکړه. دوی په دې توگه د خپلو کمپنیو ټولې څانگې د یو طرفه ویډیویي اړیکې له لارې سره وتړلې. په هغه وخت کې نو دا د نړۍ تر ټولو ستره خصوصي د سپوږمکۍ شبکه وه. په دې توگه نو مرکزي دفتر په دې قادر و چې خپلې کمپنۍ کنټرول او د خلکو اړتیاوې په گوته کړي.

په ۱۹۸۹ کال کې وال مارت په ۲۶ ایالتونو کې فعالیت درلود، دوی د خپلې اصلي څانگې تر څنگ د توکو یو ستر ننداړتون هم جوړ کړ. په ۱۹۹۱ کال کې یې په مکسیکو کې لومړنۍ څانگه پرانیسته او په دې توگه یې نو په نړیوالو بازارنو کې گام کېښود. په ۱۹۹۵ کال کې یې په ارجنټاین او برازیل کې هم څانگې پرانیستلې. وروسته وال مارت بریتانیا ته ننوت او د ۱۰ میلیونو ډالرو په ارزښت یې ایسدا کمپنۍ واخیسته او هلته یې خپل محصولات بازار ته وړاندې کړل.

سام والتون په ۱۹۹۲ کال کې په آرکانزاس کې ومړ او لوی زوی یې رابسون والتون مدیره هیت وټاکل شو. وروسته یې نړیوالې څانگې پرانیستې او بابي مارتین د شرکت عمومي مدیر وټاکل شو. دغې شرکت په ۱۹۹۷ کال کې د لومړي ځل لپاره د سلو میلیاردو ډالرو پلور تجربه کړ، چې د چین له پلورنځیو سره یو ځای یې بیا پلور ۱۱۸ میلیاردو ډالرو ته ورسېد.

په ۱۹۹۸ کال کې یې وال مارت ټلویزیوني شبکه جوړ کړه، نوم یې هم وال مارت و، دوی میوزیکونه خپرول، سوداگریزې خبریاتوې یې خپرولې، فلمونه به یې خپرول او دې شبکې د ۲۰۰۵ کال د احصاصې له مخې، په میاشت کې ۱۳۰ میلیونه کتونکي لرل.

په ۲۰۰۰ کال کې لی اسکات د وال مارت د عامل مدیر په توگه معرفي شو، په دې وخت کې د پرچون پلور په برخه کې وال مارت د نړۍ په پنځوسو غوره کمپنیو کې لومړی مقام خپل کړ. په ۲۰۰۵ کال کې وال مارت پر ۶۲۰۰ قلمه موادو باندې پانگونه کړې وه، دوی ۳۸۰۰ پلورنځي لرل، دوی په دې وخت کې ۱،۶ میلیونه کارکوونکي لرل، د پلور کچه یې هم ۳۱۲ میلیاردو ډالرو ته لوړه شوې وه. دوی په کاترینا کې د طوفان له امله له زیانمنو سره ۱۸ میلیونه ډالره مرسته وکړه. په ۲۰۰۶ کال کې له المان په بشپړه توگه ووتل او خپل ۸۵ پلورنځي یې په مترو ډله باندې وپلورل.

وال مارت دمگړۍ د انساني نیرو له اړخه د نړۍ تر ټولو ستر شرکت دی، ۲،۲ میلیونه کسان کار ورسره کوي او دمگړۍ یې ۶۲۰۰ پلورنځي د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې فعال دي. په وال مارت کې کار په ساعتي بڼه دی او تر ټولو ښه کاري فرصتونه پکې برابرېږي. په دې شرکت کې ۸۱۵ زره ښځې هم کار کوي، د پلورنځیو تر څنگ معاینه خانې لري او د خپلو مشتریانو دربیمه برخه روغتیایي لگښت هلته پرېکوي. په امریکا کې د وال مارت په څانگو کې ۳۷۵ زره غیر امریکایان هم کار کوي.

همیانی

# تعصب څه شی دی؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

تعصب! د یوه انسان تر ټولو بد او ناوړه صفت کېدای شي. تاسو به هېڅکله داسې څوک پیدا نه کړی، چې قبوله کړي متعصب دی، په داسې حال کې چې له کړو وړو به یې په وضاحت پوهېږی چې متعصب دی. د تعصب کلمه له عصب څخه اخیستل شوې ده او په دې مانا ده چې د یوه چا عاطفي او احساسي عکس العملونه له هر ډول عقلاني معیار لرې وي.

دغه کلمه په ډېرو اعتقادي او معنوي امورو کې کارول کېږي؛ خو اصلي او اصطلاحي کارونه یې چې دلته مطرح ده هغه د کورنیو او خپل خپلوی په مسایلو کې ده. نو ویلای شو چې تعصب هغه عادت او خصلت دی، چې یو شخص اړ کوي، څو له خپلې کورنۍ او خپلو خپلوانو څخه؛ هغه که ظالم وي او یا هم مظلوم، ننګه وکړي. البته دغه تعصب یوازې په کورنۍ او خپلو خپلوانو پورې اړه نه لري، بلکې ځینې وخت د قوم، قبیلې، هېواد، نژاد، کلتور او ژبې په برخه کې هم وي. نو په همدې دلیل یو څوک له منطقي او عقلاني دلیل پرته یوازې د خپل هغه احساس او عاطفې پر بنسټ چې له خپل تعصب او نژاد څخه یې سرچینه اخیستې دفاع او ننګه کوي. د دې لپاره چې متعصب کس ښه وپېژنی، نو د پېژندلو تر ټولو ښه لاره د هغه خبرو او کړو وړو ته پام کول دي.

ځینې عادتونه شته چې د یوه انسان په ځرنګوالي او شخصیت جوړونه کې ډېر زیات اغېز او رول لري. دغه عادتونه نه یوازې دا چې د انسان پر کړو وړو اغېز کوي، بلکې پر لیدلوري او کړنلاره یې هم بده اغېزه کولای شي. ان د دې امکان شته چې له خپل فطرت یې لرې کړي. دغه عادتونه یې د دې لامل کېږي، چې انسان نړۍ ته په یوه بل ډول وګوري او یا دا چې ځینې واقعیتونه ان ونه ویني او سترګې یې ور باندې پټې شي. تعصب او په پټو سترګو باندې د نورو پېښې کول د اصلي حقیقتونو د پېژندلو او پرې د پوهېدلو مخه نیسي. متعصب کسان ټول موضوعات د تېرو شویو کسانو له عینکو ګوري او د هغوی د معیار پر اساس یې ویني او سنجوي. دوی داسې فکر کوي؛ هر هغه نوی فکر چې د دوی پخوانیو کسانو نه درلود، نو هغه ناسم دی. دوی داسې تصور هم کوي، چې پخواني خلک ټولو علومو، د پوهې ډولونو او حقیقتونو ته رسېدلي وو او هېڅوک نه شي کولای چې د هغوی له خبرو لوړې خبرې وکړي او یا هم نوی فکر وکړي. د همدې دلیل له مخې دوی باور نه لري، چې په اوسنۍ معاصره دوره کې دې داسې نوی شی وي، چې د دوی نیکونو هغوی ته لاسرسی نه درلود او یا نه پرې پوهېدل. نو له همدې کبله دوی د هر ډول نوي لیدلوري او نوې کړنلارې پر وړاندې مقابله او مقاومت کوي.

**د تعصب لاملونه**

۱. جهل او ناپوهي: خلک له دې کبله متعصب کېږي، چې نه پوهېږي اصلي خبره او موضوع څه ده. نو دغه ډول کسان باید ډېره مطالعه وکړي او که فکر یې وکړ چې په کومه موضوع کې ستونزه لري، ښه ده چې د بحث او موجه علمي سپارښتنو پر مټ یې حل کړي، نه د هغه افراطي عکس العملونو پر مټ چې نور پکې توهین او تحقیر کېږي.

۲. کورنۍ اغېزې: ځینې کورنۍ د نامعلومو دلایلو له مخې له ځینو قومونو او ژبو سره نفرت کوي او ښه یې نه ترې راځي. د مهربانۍ له مخې له خپلو افکارو سره لوبې مه کوئ او له ځان څخه دغه پوښتنې مطرح کړئ: ولې فلانی قوم بد دی؟ ایا په رښتیا هم همداسې ده؟ هغه قوم یا ژبه کومې ښې ځانګړنې لري؟ په کوم اساس زموږ مشران فکر کوي، چې هغه مسئله سمه ده؟ ایا په دې برخه کې اسناد او شواهد شته او که نه، دغه ډول جملې له یوه نسل څخه بل ته سینه په سینه لېږدېدلې دي؟

۳. کینه: ځینې وخت د حسادت او کینې له مخې د یوه انسان په وجود کې تعصب را پیدا کېږي. د بېلګې په توګه، د یوه خاص قوم یا ژبې اړوند خلک پرمختګ کوي؛ خو د دې پر ځای چې دغه کس الګو ترې واخلي، په تخریب لاس پورې کوي، پښې یې وهي او په تعصبي کړنو لاس پورې کوي.

۴. له راتلونکې وېره: ځینې متعصب کسان له راتلونکې وېره لري، دوی فکر کوي چې که فلانی قوم او یا فلانۍ کورنۍ همداسې پرمختګ وکړي، نو زموږ د پرمختګ لپاره به فرصت نه وي. خو که په ټوله کې د یوه ملت او یا یوه هېواد په څېر فکر وکړو، نو بیا دغه نظریه کاملاً ناسمه ده. ملتونه هېڅکله هم له یو بل نه شي بېلېدای، بلکې د یو بل تر څنګ به اوسېږي او ژوند به کوي.

۵. کاذب او دروغجن غرور: ځینې کسان د هغه کاذب غرور له کبله چې لري یې، تعصب ته مخه کوي. د بېلګې په توګه، یوه چا پخوا ډېر ښه ژوند درلود؛ خو اوس شرایطو ته په کتو چې وضعیت بدلون کړی دی، د ده ځای کوم بل چا نیولی دی، ځان ورته په سیاسي، ټولنیزه او اقتصادي برخه کې ټیټ ښکاري، نو هغه ده چې تعصب ته مخه کوي.

۶. ځان پر نورو لوړ ګڼل: معمولاً د تعصب ریښې پر نورو خلکو باندې ځان لوړ ګڼلو کې وي. په داسې حال کې چې انسان ټول یو دی او هېڅ انسان پر بل انسان غوره والی نه لري، مګر هغه چې پرهېزګاره وي او د ښو صفتونو درلودونکی وي.

**څنګه له تعصب لرې اوسو؟**

۱. تل باید د واقعیتونو په لټه کې واوسو او دا باید پیدا کړو چې ولې مو له یوه شخص، کورنۍ، نژاد، قوم، ژبې، لورې، هېواد او سیمې څخه ښه نه راځي. اصلي لامل یې په څه کې دی؟ که واقعیت درک کړی او په اړه یې پوره معلومات حاصل کړی، نو هغه ده چې په وجود کې مو د تعصب کچه کمېږي. دا مو باید په یاد وي، چې تر ډېره مو له هغه چا څخه بد راځي، چې ښه یې نه پېژنو؛ هغوی په سمه توګه نه پېژنو، ځکه نفرت ترې لرو.

۲. د هغو کسانو په اړه باید څېړنه وکړو، چې تعصب ته مو هڅوي. ولې د دې کسانو له فلانۍ موضوع سره نه لګي؟ ایا دغه کس د باور وړ دی؟ تېر وخت یې ښه و؟

۳. په دې اړه باید فکر وکړو، هغوی چې تعصب یې کړی دی کوم ځای ته رسېدلي دي. تاسو به هېڅ داسې څوک پیدا نه کړی، چې تعصب یې کړی وي او بریالی شوی وي، مګر دا چې په خپل کاذب شخصیت سره یې خلکو ته دوکه ورکړې وي.

۴. د انسانیت په اړه فکر وکړئ. لومړۍ موضوع چې په ذهن کې مو راګرځي باید د انسان او انسانیت موضع وي، نه د ژبې، قوم، ولایت، لورې، هېواد او نورو. که مو په خپل وجود کې انسانیت را ژوندی کړ، هېڅکله به په دې اړه فکر ونه کړو، چې څوک ښه دي او څوک بد. هغه ده چې د ښو او بدو د ارزونې شاخص به مو کاملاً عقلاني او انساني وي.

۵. په هغو غونډو او مجلسونو کې ګډون مه کوئ، چې د تعصب او توهین په اړه پکې بحث کېږي.

۶. له هغو کسانو سره مو ناسته ولاړه کمه کړئ، چې بیا بیا درته د دغه ډول خبرو یادونه کوي. ډاډه یم چې په دې کار سره به د خوښۍ احساس وکړئ.

۷. مخ بېلګه (الګو) وټاکئ. شاوخوا مو هرو مرو ښه او زړه سواندي کسان وو او شته، چې بریالی ژوند یې کړی دی او یا یې کوي. تاسو له هغوی څخه الګو اخیستی شی، د هغوی د بریا یو راز په دې کې هم و یا دی چې تعصب یې نه درلود.

۸. تر ذهن مو ډېره د زړه خبره واورئ. هرې موضع ته له مثبت او عاطفي اړخه وګورئ، نه له سمتي، نژادي او ژبني اړخه.

۹. مخکې له دې چې یو څه ووایاست او یا یې تر سره کړی، د څو ثانیو لپاره مکث وکړئ او له ځان سره فکر وکړئ. ولې باید داسې ووایم، یا وکړم او یا هم ولیکم؟ ایا په دې موضوع کې کوم چا، کورنۍ، قوم، ژبې، ولایت، لورې او یا نورو ته کوم منفي او یا له تعصب ډک ټکی متوجه دی، چې واقعیت ونه لري؟ ایا کوم ټولګیوال چې له فلاني قوم یا ځانګړې ژبې سره تړاو لري، که زما دغه خبره واوري او یا هم لیکنه مې ولولي، ښه احساس به وکړي؟ که مو دغه ټول موارد له فلتر مثبت تېر شول، نو مخکې لاړ شئ، که نه نو فکر مو بدل کړئ او داسې کار وکړئ، چې له هېڅ یوه اړخه پکې چا ته توهین نه وي شوی.

## <u>سټولټنبرګ:</u> طالبانو د شوو ژمنو په ماتولو سره ثابته کړه چې د باور وړ نه دي

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ یو ځل بیا د طالبانو په اړه خپل دریځ روښانه کړی دی. نوموړي زیاته کړې چې طالبانو د تاوتریخوالي کمولو په اړه د شویو ژمنو په ماتولو سره وښوده، چې دغه ډله د باور وړ نه ده.

سټولټنبرګ ویلي، په افغانستان کې د طالبانو له لوري روان تاوتریخوالی خپل اوج ته رسېدلی او تر ټولو ګواښوونکې دا چې دغې ډلې په دې وروستیو کې د ډاکترانو، قاضیانو او خبریالانو په وژلو هم صرفه و نه کړه. هغه زیاته کړې، چې دوی به د راتلونکې چهارشنبې په ورځ په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د پاتې کېدو په اړه د دغه سازمان له غړو هېوادونو سره غونډه ولري او په خبره یې، دی هیله لري چې غړي هېوادونه د افغانستان په اړه سمه پرېکړه وکړي.

سټولټنبرګ په خپلو تازه څرګندونو کې دغه راز ویلي چې له تېرو دوو لسیزو راهیسې په افغانستان کې جګړه روانه ده چې ټول اړخونه یې ستړي کړي دي. هغه ټینګار کړی دی چې د ناټو هېڅ غړی په افغانستان کې د تل لپاره پاتې کېدل نه غواړي، خو طالبان باید په خپلې ژمنتیا سره د ځواکونو وتلو ته زمینه برابره کړي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو هم تازه د ناټو غړو هېوادونو ته خبرداری ورکړی، چې ژر تر ژره دې خپل سرتېري له افغانستان وباسي. طالبان وایي، د دوحې له هوکړې سره سم باید ټول بهرني ځواکونه له افغانستان نه ووځي. دوی ویلي، چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور دوام د هېچا په ګټه نه دی او یوازې جګړې به اوږدې کړي. طالبانو په دې اعلامیه کې همدا راز ویلي چې امریکا نه تر دې دمه د هوکړې مطابق زندانیان خوشي کړي او نه یې هم د مشرانو نومونه له تور لېست ایستلي دي. دوی همدا راز ویلي چې افغان حکومت پر طالبانو بریدونه هم ډېر کړي دي. بلخوا د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار په یوه خبري غونډه کې ویلي، چې طالبان د سولې پلویان نه دي او جګړو ته ادامه ورکوي.

## <u>بشري حقونو کمېسیون:</u> د سولې مذاکراتي ټیمونه دې ژر تر ژره د خبرو مېز ته راوګرځي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو ځل بیا د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو له مذاکراتي ټیمونو غوښتي، چې د خبرو مېز ته په حاضرېدو سره ژر تر ژره مذاکرات پیل کړي.

دغه کمېسیون پر خپل ټویټر لیکلي: «کمېسیون د دواړو لورو مشرانو ته د خپل لیک په بیا خپرولو سره د خبرو مېز ته د هغوی د را ګرځېدو غوښتونکي دي او د جګړې د ناموجه انساني، مادي او معنوي لګښتونو د راکمولو لپاره د ژر تر ژره اوربند پر اړتیا او د جګړې ختمولو پر هر اړخیزو او مسوولانه هڅو ټینګار کوي.»

یاد کمېسیون تر دې وړاندې هم د یوې اعلامیې په خپرېدو سره په هېواد کې د تاوتریخوالي کمېدو او د ژر تر ژره اوربند ټینګېدو غوښتنه کړې وه.

د دغه کمېسیون په باور د تاوتریخوالي دوام د هرې ورځې په تېرېدو له افغانانو قرباني اخلي او په وینا یې، دوام یې د سولې په اړه خلک نا هیلي کړي دي.

په دغه لیک کې دواړو مذاکره کوونکو پلاوو ته په خطاب کې ویل شوي: «موږ په بې صبرۍ سره د مذاکراتو مېز ته ستاسو بیا ورتلو ته منتظر یو. اوس د خپلو تېرو لیکونو او څرګندونو په تعقیب، یو ځل بیا د دې لیک په ترڅ کې د سولې د مذاکراتو په اجنډا کې د سملاسي اوربند اړتیا، د قربانیانو د ګډون ارزښت او د بشر حقونو او قربانیانو د حقونو ارزښت ته ستاسو پام را اړوو.»

د بشري حقونو کمېسیون داسې مهال د تاوتریخوالي کمېدو او اوربند ټینګېدو باندې ټینګار کوي، چې د افغان امنیتي چارواکو په وینا، دا مهاله د افغانستان په ۲۰ ولایتونو کې جګړه روانه ده او له څه وخت راپه دې خوا په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو دویم پړاو پیلېدل هم ځنډېدلی دي.

تر دې مخکې د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا مشر او یو شمېر نورو افغان چارواکو ویلي وو چې طالبان د خبرو مېز ته حاضرېدو پر ځای پر سیاسي سفرونو بوخت دي. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني پرون له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو وتلو د ۳۲ کلیزې په مناسبت پیغام کې وویل چې اوسمهال د جګړې پای ته رسېدو او سولې ټینګېدو فرصت رامنځته شوی دی.

اقتصاد

د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۳ |
| € | ۹۲،۸۵ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۴،۳ |

بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۷مه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۵مه | ۶۸۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۶ | ۱٦ |
| ۰ | ۲ | ۷ | ۱۰ | ۸ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۵ | لمر ختل ۰۶:۳۹ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۵۸ | ماښام ۰۵:۳۶ | ماخوستن ۰۷:۰۱

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۰۹ میلیونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۹ میلیونه او ۱٦۷ زره او ۹۱۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۴۰٦ زره او ٦۸۹ کسان مړه شوي او له ۸۱ میلیونه ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۸ میلیونه او ۱۹٦ زره او ۹٦۴ ته رسېدلې او ۴۹٦ زره او ٦۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۹۰۴ زره او ۹۴۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۸۱۱ زره او ۲۵۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د څلور میلیونه او ۷۱ زره او ۸۸۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د څلور میلیونه او ۲۷ زره او ۱۰٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## رئیس جمهور غني: فرصت برای ختم جنگ و تأمین صلح در کشور فراهم شده است



۳۲ سال پس از خروج آخرین سرباز ارتش سرخ شوروی سابق از افغانستان، محمداشرف غنی، رئیس جمهور کشور می‌گوید که خروج این نیروها از افغانستان مسوولانه نبود و هیچ تدبیری نیز برای آینده روی دست گرفته نشده بود.

رئیس جمهور غنی که در یک پیام تصویری به مناسبت بیست‌وششم دلو سالروز خروج ارتش سرخ از افغانستان صحبت می‌کرد، گفت که به همین دلیل پس از خروج شوروی از افغانستان، نیروهای امنیتی، نهادهای ملی و زیربناهای کشور فروپاشیدند.

محمداشرف غنی گفت که تهاجم شوروی در آن زمان به افغانستان از سوی بسیاری از کشورهای جهان و سازمان همکاری‌های اسلامی و کشورهای منطقه اشغال تلقی شد و سرانجام در اثر مبارزه مردم، ارتش سرخ شکست خود را در افغانستان پذیرفت و خارج شد.

آقای غنی گفت که هدف از «جهاد» مردم افغانستان علیه شوروی تأسیس نظامی براساس خواست مردم بود تا در نتیجه آن نهادهای ملی و نظامی کشور تقویت شود.

غنی شکست شوروی را در افغانستان معلول وحدت ملی، یک‌پارچه‌گی و تدبیر مردم افغانستان خواند و تأکید کرد که اکنون نیز برای ختم جنگ و رسیدن به صلح فرصت فراهم شده است.

## اعلان داوطلبی

| شماره | جنس | مقدار | مارکه | صنعت | قیمت فی کیلو | قیمت مجموعی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آرد خوب سفید | ٦.٦ تن | خوراکه | قزاقستانی | | |
| ۲ | سیله درمیانه | ۳.۳ تن | درمیانه | هندی | | |
| ۳ | روغن مومن | ۱.۹۸ تن | مؤمن + عزیز | اماراتی | | |
| ۴ | بوره میده سفید | ۱.۹۸ تن | میده | اندونیزیایی | | |
| ۵ | لوبیا | ۱.۹۸ تن | سرخ | ترکمنی | | |
| ٦ | کمپل ٦ کیلویی ۲۴۰×۲۰۰ | ۳.۹٦ تن | درجه اول | چینایی | | |
| ۷ | قیمت تهیه وتوزیع وبارگیری و رساندن آن به اماکن توزیع در ولایات | | | | | |
| ۸ | قیمت تیارکردن فی کارتن با چاپ شعاردفتر علیه هرکارتن | | | | | |
| ۹ | قیمت مجموعی یك کارتن بادرنظرداشت همه مصارف فوق الذکر و تادیه مالیه | | | | | |

سازمان (MWL) می‌خواهد از طریق شرکت‌ها و مؤسسات ذیربط که با ارگان‌های ذیربط دولتی ثبت و راجستر باشد، جواز فعالیت آن مدار اعتبار و تصدیق تصفیه حسابات مالی خود را از وزارت مالیه در دست داشته باشد، مواد فوق‌الذکر را خریداری نماید. بناءً شرکت‌ها و مؤسسات که دارای مواصفات فوق باشند، می‌توانند در داوطلبی شرکت کنند وذشرطنامه را از این دفتر اخذ و نرخ خود را إلی تاریخ ۱۷ / ۰۲ / ۲۰۲۱ از طریق ادرس‌های ذیل به این دفتر تقدیم نمایند، تادیه مالیه به وزارت مالیه از پروژه فوق‌الذکر به دوش شرکت برنده می‌باشد. ضم فوتوکاپی جواز همرای نرخ لازمی است (اماکن توزیع- در ولایت پروان مطابق هدایت مسؤلین آن ولایت).

**آدرس:** شش درك، خانه (۷)، نزدیك دفتر سابق دی ایج ایل، سرك عمومی دفتر سازمان مذکور
**ایمیل:** iiro_kabul_4u@hotmail.com
**تلیفون:** ۰۰۹۳۷۹۱۲۲۰۲۳۲
**پوست بکس:** (ص – ب – ۳۱۸۱ وزارت مخابرات کابل افغانستان)

STUDENT'S ACCOUNT

د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزيزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالی ګڼل کیږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزیزی بانک
Azizi Bank